

ولی پاسدار

# ای هیواده

په رنځونو کی دی ډوب یم شپه او ورځ یم بیقراره
هوسونه رانه ورک شول یم بې حاله ای هیواده
ما په چغو چغو ډیر ژړلی دینه ستا د پاره
درنه ځار شم تا زما نه ډیر ژړلی ای هیواده
ته خوږمن یی ته دردمن یې پرهارونه دی تازه دی
ږدم د هر پرهار دپاره مرهمونه ای هیواده
دنیا وال درته راغلی په پلمه د ډیموکراسۍ کې
خو مطلب یې ستا د زړمو لوټول دی ای هیواده
په دوستۍ او په خندا کی چارواکو سره گرم دی
دې ګرمۍ کی دوی په لومه کی نیولی ای هیواده
دا منمه چه د ګوتو په شمېر خو تنه مریان دی
خو دا لوی وطن د ټولو انډیوال دی ای هیواده
که انګریز وه که روسان وه څو ځل تیر شوه په دې لاره
اوس نوبت د میراث خوار د استعمار دی ای هیواده
د پانګوالۍ  په منګلو کی ګیر شوی یاست ای خلکو
د دې تورې دربیلې نه ځان ایستل دی ای هیواده
پیړۍ تېرې شوې زمونږ خلک لا بیده دی
دې خوب وړو ته په کار د ویښول دی ای هیواده
پاڅئ پاڅئ وطنپالو سربښندوی د خپل هیواد شئ
هم په عقل هم په توره ښه لېواله ای هیواده
که په توره او په وینو مطلب نه اخیستل کېږي
خو په عقل ځان ویستل دی په دې لاره ای هیواده
**پاسدار**ی زمونږ مطلب دی هیوادوالو جګ او ویښ شئ
دراندە خوب نه زمونږ دنده ویښول دی ای هیواده
***

ناروی
13/06/2019